# د خدای اولاد

## تاسو د هغه د کورنۍ غړي یئ

### د پیل ټکی

د پنځو دقیقو دپاره د ځو تېرو شویو ورځو تجربه چې د سپیڅلي کتاب د لوستلو او دعا څخه لرئ، له نورو سره شریکه کړئ:

- کوم شیان په ځانګړې توګه ستاسو د هڅولو سبب شو؟
- کوم شیان ستاسو دپاره ستونزمن وو؟

### بحث او خبرې

د یو ماشوم د زېږېدو نه وروسته څومره وخت نیسي تر څو پلار او مور یې هغوی ته "زویه" او یا "لورې" ووایي؟ څومره وخت نیسي تر څو یو ماشوم د خپل قانوني حق او حقوق څخه برخمن شي؟

ایا تاسو خپلې کورنۍ ته د یو ماشوم د راتګ تجربه لرئ؟ احساس مو څنګه ؤ، کله چې مو د لومړي ځل دپاره هغه په غېږ کې ونیوه؟

### اصلي مفکوره

کله چې یو ماشوم دې نړۍ ته راځي، د هماغه زېږېدو له وخته د کورنۍ غړی ګڼل کیږي.

ماشوم دې ته اړ نه دی چې کوم کار سر ته ورسوي یا کوم ځانګړی رفتار ولري یا په کوم ازموینه کې قبول شي، تر څو د کورنۍ د غړي په توګه ومنل شي. هغه د هغې کورنۍ لور یا زوی دی او ماشوم کېدل د هغه هویت دی. هغه سمدستي د خپل پلار، مور، ورور او خور سره اړیکه نیسي او قانون هم سمدستي هغه د والدینو د اولاد په توګه په رسمیت پېژني.

سپیڅلی کتاب په دې اړه په روښانه توګه وایي: کله چې څوک په عیسی باندې ایمان راوړي، نو هغه سمدستي د خدای اولاد ګڼل کیږي او خدای هغه د خپلې کورنۍ د غړي په توګه مني.

### په کلام باندې تعمق او غور

لاندې ایتونه ولولئ. دا ایتونه کوم شیان د خدای د زوی کېدلو په اړه مونږ ته تعلیم راکوي؟

1. یوحنا ۱: ۱۲-۱۳
2. رومیان ۸: ۱-۱۶
3. غلاتیان ۴: ۶-۷
4. رومیان ۸: ۳۸-۳۹

دلته ټکي دا دي: د خدای سره د اړیکې د ټینګولو دپاره مونږ اړ نه یو چې کوم ځانګړي مذهبي دندې سر ته ورسوو.
د خپل هویت په خاطر د هغه د اولاد په توګه د خدای سره د خپلې اړیکې نه خوند واخلو او په ازاده توګه د هغه حضور ته ورشو او له هغه نه وغواړو چې زمونږ ورځني اړتیاوې پوره کړي.
څومره حیرانوونکې ده چې خدای ته "ابا" ووایو چې معنی یې "پلار" یا "بابا" دی.

خدای د اسماني پلار په توګه هېڅکله خپل اولادونه نه پرېږدي. هېڅ شی نه شي کولای چې مونږ د خدای له مینې جدا کړي.

### همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

- دې واقیعت، چه د خدای زوی یئ په تاسو یي څه تاثیر کړی؟
- د خدای یعنی اسماني پلار زوی کېدل په تاسو باندې څه اغېزه کوي؟
- دا حقیقت څنګه تاسو ته نن ورځ باور او امېد درکوي؟

له خدایه وغواړئ چې تاسو سره مرسته وکړي ترڅو په دې نړۍ کې د خدای د اولاد په توګه د خپل هویت سر سم ژوند وکړئ. دا کلمې وکاروئ
او خدای ته ووایئ:

- خدایه، له تا نه شکرګزار یم چې په رشتیا ستا اولاد یم او له دې وروسته زه تا ته بشپړ لاسرسی لرم.
- خدایه، له تا نه شکرګزار یم چې تاته پردی نه یم، بلکې زه ستا د کورنۍ غړی یم. له تا نه شکرګذاره یم د خپل ورونو او خویندو په خاطر په افغانستان او نورې نړۍ کې، چې زمونږ الهي کورنۍ خپلې ودې ته دوام ورکوي.
- خدایه، له تا نه شکرګزار یم چې ته "ابا" زما پلار یې. له تا نه شکرګزار یم چې په ما باندې ډېره پاملرنه کوې او غواړې چې ماته نږدې اوسې.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- له خدای سره په ورځني وخت تېرولو کې، د لوقا او زبور د کتابونو لوستلو ته دوام ورکړئ او د لوستلو په وخت کې داپوښتني له خپله ځانه وپوښتئ:
    - دا برخه د خدای په اړه ماته ته څه وایي؟
    - دا برخه نن ورځ ماته د هغه د اولاد په توګه څه معنی لري؟
- همدارنګه هره ورځ د یو څو دقیقو دپاره د خدای د زوی کېدو په اړه دې لاندې ایتونو ته پام وکړئ.
    - اول یوحنا ۳: ۱-۲
    - غلاتیان ۴: ۶-۷
    - رومیان ۸: ۳۸-۳۹
- هغه څه چې تاسو زده کړل، له یوبل سره یي شریک کړئ.
- له یوبل څخه پوښتنه وکړئ، چې تاسو څنګه کولای شئ په اونۍ کې یوبل ته دعا وکړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved